# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي خلورمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۵مه | ٤٨٦یمه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### بریا ته لار




ژباړن وايي: (بريا ته لار) چې د ناپيليون هېل اثر دی، ځکه مې يې پښتو ژبې ته د ژباړې هڅه وکړه، چې د بريا ډېرې اسانه او عملي لارې چارې يې پکې په ګوته کړې دي.

## کاواکه پایلې؛

### د ولسمشریزو ټاکنو په اړه په دوو ورځو کې اووه زره شکایتونه ثبت شوي دي




### اته زره شکایتونه او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ستونزمن کار

۲ مخ

### د آسیا زړه- استانبول پروسه؛ پر افغانستان او سیمه یې اغېزې

۲ مخ

### د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

۳ مخ

## په ننګرهار کې د نږدې ۷.۲ میلیونو افغانیو په لګښت د پروسس توکي وېشل شوي



د ننګرهار د کرنې رياست د کرنې د ودې او کليوالي پراختيا (CBARD) پروژې په همکارۍ د دغه ولايت د کوټ، اچين، چپرهار، رودات، خوګيانيو او شيرزاد ولسواليو پر ۱۳۲ لويو شنوخونو لرونکو د خوراکي توکو د پروسس توکي وېشلي دي.

د دغه ولايت د کرنې سرپرست رييس ډاکتر ضمير بهسودي ويلي، دغه وېشل شوي توکي د شنوخونو لرونکو او يادو ولسواليو اوسېدونکو ته ډېرې اسانتياوې رامنځ ته کوي او د خوړو د پروسس په برخه کې له دوی سره مرسته کوي.

د نوموړي په خبره، د مرسته شويو توکو د يوې بستې لګښت نږدې ۵۰ زره افغانۍ دی، چې ۳۹ توکي پکې شامل دي.

له يادو مرستو څخه برخمن شوي کولای شي چې د پروسس شويو توکو يوه برخه په خپلو کورونو کې مصرف کړي او ډېره برخه يې په سيمه ييزو بازارونو کې وپلوري.

## امریکایي رسنۍ:

## په افغان جګړه کې د امریکا بریا ناممکنه ده

د نشنل انټرسټ په نامه يوې امريکايي مجلې د دغه هېواد د مشرانو له لوري د افغان جګړې تحريف ته په اشارې ليکلي، چې په افغان جګړه کې د واشنګټن بريا ناممکنه ده.

د ډانيل ډېويس په نامه په افغانستان کې د امريکا د سياستونو څارونکي په دې مقاله کې د واشنګټن پوسټ له لوري افشا شويو اسنادو ته په اشارې ليکلي، چې دا اسناد د دې ښکارندويي کوي چې امريکايي مشرانو د افغان جګړې په اړه واقعيتونه د دې لپاره پټ کړي او خلکو ته يې دروغ ويلي، چې په دغه هېواد کې د رواني جګړې د ګټلو لپاره خپلې ناکامۍ پرېکړې توجيه کړي.

د مقالې په يوه برخه کې ليکل شوي چې امريکايي مشرانو سره له دې چې په دغه هېواد کې يې د جګړې د ګټلو هيلې له لاسه ورکړې وې، خو تېرو دريو دولتونو د دې بې مانا جګړې د ګټلو لپاره امريکايي نظاميان قرباني کړل او بل شوی اور يې لا تازه کړ. مقالې د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې اسناد هيله ښونکي بللي او ليکلي يې دي چې دغه اسناد ممکن د دې باعث شي، چې د ټرمپ په مشرۍ امريکايي اداره د مخکنيو سياستونو پر خلاف افغان جګړه ختمه او امريکايي سرتېري خپلو کورونو ته ستانه کړي.

دا لومړی ځل نه دی چې امريکايي رسنۍ په افغانستان کې د امريکا جګړه ناکامه بولي، بلکې تر دې وړاندې هم امريکايي رسنيو بيا بيا ويلي چې امريکا په افغان جګړه کې ماتې خوړلې او له همدې کبله امريکايي چارواکي او سياستوال د خپلو ماتو د پټېدو له کبله خپلو خلکو ته دروغ وايي او د جګړې په تړاو ناسم معلومات خپروي.

## طالب مشران د لنډمهاله اوربند پر سر لومړنیو هوکړو ته رسېدلي دي



۵ مخ

## شورای نامزدان انتخابات:

## نتیجه‌یی اعلام شده انتخابات، برای ثبات افغانستان خطرناک است



شورای نامزدان ریاست جمهوری برای بار دیگر تأکید کردند که برای بیرون رفت از بحران در کشور طرح حکومت مشارکت ملی روی دست گرفته شود. شورای نامزدان ریاست جمهوری، دیروز طی یک نشست خبری گفت، نتیجه‌یی را که کمیسیون انتخابات ارایه کرده، برای ثبات افغانستان خطرناک است.

در حالی‌که برگزاری انتخابات، رسیده‌گی به شکایت‌ها، تخلف‌های انتخاباتی و اعلام نتیجه‌ی ابتدایی انتخابات از صلاحیت‌های قانونی کمیسیون‌های انتخاباتی است؛ اما شورای نامزدان از چگونگی کارکرد این نهادها انتقاد کرد.

احمد ولی مسعود، نامزد ریاست جمهوری و عضو این شورا، کمیسیون‌های انتخاباتی را متهم به بازی با سرنوشت مردم کرد و گفت که تصمیم کمیسیون شکایت‌های انتخاباتی در چگونگی رسیده‌گی به شکایت‌ها نیز کارساز نخواهد بود. اعضای این شورا، هم‌چنین خواهان معرفی افرادی استند که به گفته‌ی آنها در روند انتخابات دست به تقلب زده اند. این در حالی است که دو روز پیش مولانا عبدالله یک تن از کمیشنرهای کمیسیون مستقل انتخابات در نامه‌یی خطاب به کمیسیون شکایت‌های انتخاباتی نگاشته بود که نتیجه‌ی ابتدایی کمیسیون انتخابات دارای خلاها و تخلف‌های قانونی بوده است.

کمیسیون انتخابات روز یک‌شنبه گذشته، نتایج ابتدایی انتخابات را اعلام کرد که در آن اشرف غنی با بدست‌آوردن بیش از پنجاه درصد آرا پیشتاز انتخابات است و عبدالله عبدالله در رده‌ی دوم قرار دارد. پس از این کمیسیون شکایت‌های انتخاباتی اعلام کرد که تیم ثبات و همگرایی بیشترین شکایت را در این کمیسیون ثبت کرده است.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـــغ

### اته زره شکایتونه او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ستونزمن کار

د ثبات او همپالنې ټیم وایي چې دوی په ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کې شپږ زره شکایتونه ثبت کړي دي. دولت ساز ټیم هم وایي چې تر زرو زیات شکایتونه یې ثبت کړي دي. دوو نورو ټیکټونو هم د پنځو سوو او زرو شکایتونو د ثبولو خبره کړې ده. په دې ډول په دوو ورځو کې تر اتو زرو شکایتونه ثبت شوي چې ښایي په درېیمه ورځ یې دا شمېره تر دې هم لوړه شي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د دغو شکایتونو د څېړنې لپاره ۳۹ ورځې وخت لري. دوی به په همدې موده کې دا شکایتونه څېړي او پرېکړې به کوي او بیا به وروستۍ پایلې اعلانیږي. په څو دلایلو دا سخت او لانجمن کار دی:

شکایتونه خورا زیات دي؛ د دغو ټولو شکایتونو مطالعه، بیا یې په اړه د اسنادو او شواهدو څېړل او ارزول، بیا ولایتونو ته تګ او هلته د اسنادو او شواهدو پر اساس د ځینو محلونو او مرکزونو، بیا کتنه، شمېرنه او په اړه یې پرېکړه سخت کار دی. دا چاره هم وخت اخلي او هم په ځینو مواردو کې د وروستۍ پرېکړې کول ستونزمنوي. له دې ښکاري چې ښایي د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون هم د ټاکنو کمېسیون په شان خپل کار پر وخت ونه شي کړلی او د وروستیو پایلو اعلان وځنډېږي.

اصلي ستونزه د ټاکنو کمېسیون له کار څخه را پیدا شوه. لومړی دوی سمې او پاکې ټاکنې ونه کړې. د ټاکنو کمېسیون زرګونه دایمي او لنډمهالي کارکوونکي په درغلیو کې ښکېل وو او آن د کمېشنرانو د ارګ له خوښې سره سمې کړنې کولې. له بله اړخه دوی په لومړنیو پایلو ډېر وخت ضایع کړ، خو بیا یې هم سمې پایلې اعلان نه کړې. که دوی خپل کار په سمه بڼه کړی وای، د ټاکنو قانون او طرزالعملونه یې نه وی نقض کړي، نو دومره شکایتونه نه کېدل. له بده مرغه دوی د کمزورۍ، سیاسي اړیکو او نورو مسایلو له امله سم کار ونه کړ او شکایتونو کمېسیون ته یې سخت او لانجمن کار پرېښود.

د شکایتونو کمېسیون له یوه اړخه د وخت له کمښت سره مخ دی او له بله اړخه شکایتونه خورا زیات دي، نو ځکه ښایي دا چاره د دوی د کار پر کیفیت اغېز ولري او ستونزې پکې پیدا کړي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته پکار ده چې سر له اوسه په خورا دقت سره کار وکړي. دوی باید ټول شکایتونه و ارزوي، هېڅ ځای باید ستونزه پرې نه ږدي. دوی باید د قوانینو او طرزالعملونو پر اساس پرېکړې وکړي. دوی باید خپل هر ګام له ټاکنیزو ټیمونو سره په همغږۍ واخلي. هر څه یې باید خلکو او ټاکنیزو ټیمونو ته څرګند وي. د خپلې هرې پرېکړې لپاره باید قانوني دلایل ولري. د ټولو شکایتونو له ارزولو وروسته باید د ټاکنو د پایو په اړه خپله پرېکړه اعلان کړي. دوی باید تر هېڅ سیاسي فشار لاندې را نه شي. پر دوی باید نه دې کاندیدانو سیوری وي او نه هم د سفارتونو او بهرنیو هېوادونو. پکار ده چې کار یې واضح، روڼ او له قانون سره سم وي، څو ټاکنیزه لانجه په ښه ډول حل شي.

# د آسیا زړه- استانبول پروسه؛ پر افغانستان او سیمه یې اغېزې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

وروستۍ برخه:

**د آسیا زړه - استانبول پروسې د هېوادونو ګډې موخې**

د یاد سازمان غړي هېوادونه د ګډو موخو د درلودو په پایله کې په ۲۰۱۱ ز کال کې سره یو ځای او په پایله کې یې د آسیا زړه- استانبول پروسه پیل کړه، چې دې موخو ته له رسېدو سره ټول له اوسني بحراني وضعیت څخه د وتو فرصت تر لاسه کوي، ګډ فرصتونه د ټولو ملتونو تر منځ ګډې همکارۍ رامنځ ته کوي او ګډې همکارۍ شریک اقتصاد ته لار پرانېزي، چې د ځان بسیاینې یوازینۍ کیلي ده. ګډې موخې یې په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

**له امنیتي ستونزو او مخدره توکو سره ګډه مبارزه**

امنیتي ستونزې او مخدره توکي د یاد سازمان د هېوادونو پر وړاندې تر ټولو لوی ګواښ بلل کېږي، چې ورسره د ګډې مبارزې فرصت ټولو ته له دې وضعیت څخه د خلاصون فرصت برابروي. باید ووایو چې د یاد سازمان ځینې هېوادونه له ترهګریزو ډلو د سیاسي ابزارو په توګه استفاده کوي، خو د هغوی د بې پولې فعالیتونو له امله نن پخپله هم قربانیان دي. وخت را رسېدلی او دوی هم پوهېدلي دي، چې د دې ګډ ګواښ پر وړاندې له شته ګډ فرصت څخه سمه ګټه پورته شي او یوازې ربښتینی عمل کولای شي چې سیمه د خپلو ملي ګټو پر اساس سره ونښلوي او د بې باورۍ فضا له منځه یوسي.

**ترانزیټ او انرژي**

د یاد سازمان هېوادونه هڅه کوي چې د سیمې د نښلولو یوازینۍ لاره د ترانزیټ نښلون دی، چې په پایله کې سوداګریزې راکړې ورکړې، د باور فضا او ټولنیز ترون ته زمینه برابره کړي. د ملتونو تر منځ د باور فضا په رامنځ ته کېدو فرهنګي ترون رامنځ ته کېږي، چې د سیمې ملتونه له معنوي اړخه هم له یو بل سره تړي. ترانزیټ کولای شي سویلي اسیا له مرکزي آسیا سره ونښلوي او افغانستان دا مهال د مهمو لویو پروژو په عملي کولو سره د عطف د دې ټکي په توګه د خپل ځای خپلولو په حال کې دی. د انرژۍ ترانزیټ به د یو بل مارکېټونو ته تولیدات ورسوي او په دې توګه ګډ اقتصادي فرصتونه زیاتېږي. انرژۍ ته د سویلي اسیا جدي اړتیا افغانستان ته دا چانس ورکوي، چې له مرکزي اسیا څخه د انرژۍ د ترانزیټ له لارې په دغو ګډو فرصتونو کې شریک شي او نور هېوادونه هم دې ته اړ باسي، چې د افغانستان اهمیت ته په کتو، په امنیتي برخه کې همکاري وکړي.

**ګډه پانګونه**

د یاد سازمان هېوادونه په مختلفو برخو کې ښه فرصتونه لري، لکه: د کانونو، انرژۍ د تولید، اوبو او کرنې په برخه کې. د بېلګې په ډول، د امریکایي کانونو پېژندونکو د وړاندوینې په اساس چې په افغانستان کې د څو ټرېلیون ډالرو په اندازه کانونه شته، همدارنګه که د افغانستان اوبه په سم ډول مدیریت شي، کېدای شي د سیمې هېوادونو ته اوبه او برېښنا دواړه ورکړي. همداسې په نورو برخو کې. خو د شته ګډو ګواښونو له وجې متأسفانه تر اوسه ترې سالمه استفاده نه ده شوې. د دې سالمې استفادې پر وړاندې لوی خنډ د ګډې پانګونې او امنیت نشتوالی دی. هماغسې چې پورته یې یادونه وشوه، کله چې د بې باورۍ فضا له منځه یوړل شي، په امنیتي او اقتصادي برخه کې د شراکت په کچه همکاري پیل شي، نو پخپله د ګډې پانګونې فرصت ته زمینه برابرېږي. لکه څرنګه چې پاس ترې یادونه وشوه. افغانستان په دې برخه کې پرېمانه سرچینې لري او د اسیا زړه کنفرانس هغه فورم دی، چې د دغو فرصتونو د تشریح لپاره ترې استفاده کېدای شي او د ټولو لپاره د یو ګډ فرصت په توګه به ورسره په سیمه کې امنیت، اقتصاد او فرهنګي همکارۍ وغوړېږي. په دې سیمه کې د ګډې پانګونې نشتوالي له امله ده، چې له ګډو تجربو او امکاناتو استفاده نه کېږي او د پورتنیو ستونزو په زیاتوالي کې یې رول لوبولی دی.

**د آسیا زړه - استانبول پروسې د هېوادونو ګډې ستونزې**

د یادې پروسې اصلي برخه‌وال ترکیه، هند، روسیه، چین، پاکستان تر څنګ یې د مرکزي اسیا هېوادونه او نړیوال سازمانونه دي او د دې وروستۍ غونډې موخه چې د ترکیې په کوربه‌توب جوړه شوې وه. څنګه کولای شو چې د یادې پروسې د هېوادونو تر منځ د باور فضا رامنځ ته او وکولای شو په راتلونکي کې د یوې کامیابې همکارۍ لوري ته لاړ شو؟ همدارنګه د یادې پروسې اساسي موضوع په افغانستان کې د سولې موضوع ده، چې په یاده ناسته کې د طالبانو او امریکا تر منځ د مخامخ خبرو د بیا پیل هرکلی وشو او غوښتنه یې وه چې یادې خبرې دوام وکړي او د بین الافغاني خبرو اترو لپاره دې هم زمینه برابره وشي. د یادې پروسې اکثریت هېوادونه دې پایلې ته رسېدلي چې په افغانستان کې ټیکاو د سیمې او د دوی د هېوادونو په ګټه دی. ترهګري په ځانګړې ډول د هغو پرمختګونو پر وړاندې خنډ ده، چې سیمه یې د تر لاسه کولو په هڅه کې ده. تروریزم، جرمي ډلې، د نشه‌یي توکو قاچاق، انساني قاچاق او له تور بازار څخه په ګټنې د دغو هېوادونو امنیت ته لوی سرخوږی جوړ کړی او د فعالیت دوام یې هغوی پر خپلمنځي بې باورۍ اخته کړي دي، چې له امله یې د دغو هېوادونو ګډه همکاري تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلې ده. د بې باورۍ او اړیکو کمزوري بله مهمه ستونزه. د دې هېوادونو تر منځ د اقتصادي اړیکو نشتوالی دی، چې له دې خلا څخه استفادې هم د جرمي ډلو د غښتلتیا زمینه برابره کړې ده. دغه هېوادونه له یو بل سره د تړل کېدو پرېمانه سرچینې او امکانات لري او د اقتصادي سرچینو په شراکت سره کولای شي نه یوازې شته ستونزې له منځه یوسي، بلکې د سیمې او نړۍ په کچه پر غښتلو اقتصادي شریکانو هم بدل شي. د دې سازمان غړي هېوادونه د انرژۍ پراخې سرچینې او مارکېټ لري، خو تر منځ یې د شته بې باورۍ له امله د افغانستان په ګډون، د ډېریو غړو هېوادونو ملتونه په لوږه او بېوزلۍ کې ژوند کوي. د انرژۍ د تولید او ترانزیټ له شته فرصتونو څخه هم د ګټې نه اخیستو له امله، تر نیمو زیات خلک په تیاره کې ژوند کوي، د افغانستان جمهور رییس محمد اشرف غني د یادې پروسې اتمې غونډې ته په وینا کې وویل چې د افغانستان ۴۰ سلنه خلک له فقر سره لاس او ګرېوان دي. دغو ستونزو له اقتصاد نیولې تر ټولنیز ژوند پورې، د دې سازمان غړي هېوادونه له ستونزو سره مخ کړي، خو د ګډو فرصتونو او همکاریو چانسونه هم شته، چې یاد هېوادونه له دې وضعیت څخه ایستلی شي او د اسیا زړه پروسه د همدې هڅو یوه برخه جوړوي.

**د کابل- انقرې اړیکې او راتلونکی**

ترکیې د یوویشتمې پېړۍ له پیل سره سم د خپل پرمختګ درست مسیر پیل کړ، په اوس کې د شلو اقتصادي ځواکمنو هېوادونو په کتار کې راځي او یاد هېواد په سیمه او نړۍ کې د خپل تاریخي، ستراتېژیک ارزښت او کلتور له مخې ځانګړی ځای لري. همدارنګه افغانستان هم د آسیا لویې وچې په زړه کې پروت هېواد دی او په اوسنۍ نړۍ کې افغانستان هم د خپل ستراتېژیک موقعیت د لرلو په اساس، خورا زیات اهمیت لري. افغانستان له ترکیې سره لرغونې اړیکې درلودلې؛ د تاریخي څېړنو له مخې، تُرک قوم له آریانا (د آمو د سیند له غاړو) څخه اوسنۍ ترکیې ته ولاړ، هلته مېشت شو او اوسنۍ ترکیه یې جوړه کړه. که د عثماني خلافت د بنسټګر عثمان شجره راوسپړو، نو معلومه به شي چې دی هم له منځنۍ آسیا څخه ترکیې ته تللی او هلته یې د عثماني خلافت بنسټ کېښود. د غزنویانو دورې د لومړي پاچا سلطان محمود غزنوي پلار ترک و او همدا راز بل ستر افغان شخصیت مولانا جلال الدین بلخي هم، چې په بلخ کې زیږېدلی و، د اوسنۍ ترکیې (هغه مهال روم) مرکز استانبول ته ولاړ او په دواړو تخلصونو (رومي او بلخي) سره ښه وځلېد. په معاصر تاریخ کې هم ترکیې افغانستان ته د افغان اردو د روزنې لپاره خپل نظامي قوماندانان راولېږل او هم ترکیه له شوروي وروسته دویم هېواد و، چې افغانستان یې پر رسمیت وپېژانده او افغانستان هم بیا هغه دویم هېواد و، چې د ترکیې نوی جمهوریت یې په رسمیت وپېژاند. غازي امان الله خان لومړی افغان مشر و، چې ترکیې ته یې سفر وکړ او هغه مهال د افغانستان لومړی سفارت هم په ترکیه کې پرانیستل شو. ترکیې د افغان جهاد په دور کې د افغانستان ملاتړ وکړ او وروسته د افغانستان په کورنیو جګړو کې هم د چین تر څنګ بې طرفه پاتې شوه، چې له امله یې په افغانستان کې د دغو هېوادونو په تړاو هیلې موجودې دي. په ۲۰۰۱ ز کال کې چې کله امریکا پر افغانستان باندې برید وکړ، ترکیې هم د ناټو په چوکاټ کې افغانستان ته خپل سرتېري راولېږل، خو له پیله یې روښانه کړې وه چې د دوی سرتېري به په نظامي عملیاتو کې ګډون نه کوي. دوی یوازې د افغان پوځ پر روزنه، تعلیم او تربیه او نورو خدماتي کارونو باندې بوخت وو. همدا راز د افغانستان د کلنۍ احصایې له مخې، تر ۲۰۱۸ ز کال پورې دواړو هېوادونو له یو بل سره تر ۶۰۰ میلیونو ډالرو پورې مجموعي تجارت درلودلی. ترکیې د ۲۰۱۱ ز کال له نومبر څخه د افغانستان په اړه د اسیا زړه- استانبول پروسه پیل کړه. په دې غونډو کې هم د افغانستان ټول ګاونډیان برخه اخلي، چې موخه یې د افغانستان امنیت او ثبات دی. په دغو ناستو کې د افغانستان، پاکستان او ترکیې ولسمشران، د ایران مرستیال ولسمشر، د چین د ولسمشر استازی او د چین د بهرنیو چارو وزیر او ځینې نور چارواکي رابلل کېږي.

د ترکیې او افغانستان تر منځ اړیکې تر ډېره پر کلتوري اړخ راڅرخي او په اوس کې ترکیه کوښښ کوي چې یادې اړیکې په اقتصادي برخه کې غښتلې کړي. په اوس کې ترکي شرکتونه کوښښ کوي، چې په ساختماني، کانونو، د قېمتي ډبرو او نورو محصولاتو په برخه کې په افغانستان کې پانګونه وکړي. همدارنګه د لاجوردو د لارې پرانیسته یاده لار د افغانستان د هرات له تورغونډۍ پیلېږي او د ترکمنستان هېواد د ترکمن باشي بندر ته رسېږي. د ازاربایجان د باکو له ښاره تر تېرېدو وروسته، د ګرجستان تفلیس سره نښلي او له هغه ځایه به د ترکیې فارس ته رسېږي، چې بیا استانبول او وروسته ازادو اوبو ته لار پیدا کوي. همدارنګه له دې ورهاخوا اسلامي کلتور او د ازبکانو او ترکمنانو شتون هم نور لاملونه دي، چې دا اړیکې یې پیاوړې کړې دي. د ډېرې شنونکو په اند، ترکیه به په راتلونکو کلونو کې هڅه وکړي، چې د دواړو هېوادونو تر منځ همدا کلتوري اړیکې او اقتصادي برخه پیاوړې کړي. که څه هم ترکیه د منځني ختیځ په مسائلو کې هم ښکېل ده او همغه لوري ته یې ډېر پام هم اړولی؛ خو بیا هم د دغه هېواد له ډیپلوماټیکو هلو ځلو څخه روښانه ده، چې د افغانستان په ثبات او امنیت ټینګولو کې هم ښه رول لوبول غواړي. د ترکي چارواکو له هڅو ښکاري چې دغه هېواد د افغانستان امنیت او ثبات ته ډېر ارزښت ورکوي؛ ځکه د افغانستان ثبات به نه یوازې دا چې سیمې ته ثبات راوړي، بلکې تر یوه بریده به د ترکیې امنیت هم خوندي کړي او په ټولیزه توګه به د سیمې او په تېره بیا د ترکیې لپاره نوې اقتصادي ګټې هم راوزیږوي.

**پایله**

د اسیا زړه- استانبول پروسې غونډه په داسې حال کې تر سره شوه، چې په افغانستان کې د جګړې د پای او د امریکایانو د مسوولانه وتلو په پار، د طالبانو او امریکایانو تر منځ اوربند شوي خبرې یو ځل بیا پیل شوي دي او د ډېری افغانانو هیلې بیا ورسره راټوکېدلې دي. امید دی چې یادې خبرې له ځان سره مثبتې پایلې ولري او د دې خبرو په تمامېدو سره بین الافغاني خبرو ته لاره خلاصه شي. په اوس کې ټولو افغانانو هغه که حکومت کې دي، که طالبانو کې دي، سیاسیون دي او که ملت؛ باید په یوه خوله او موخه یې هم په افغانستان کې د تل پاتې سولې راتلل وي، کار وکړي. هغه نایاب فرصت چې ښایي افغان سیاستوالو ته د خپل هېواد د یوې غوړېدلې راتلونکې لپاره په لاس ورغلی بیا پیدا نه شي، نو پکار ده چې د خپل هېواد د ښې راتلونکې په موخه مثبته ګټه ترې واخلي. د سیمې او په ځانګړې توګه ګاونډې هېوادونه هم خپلې مخلصانه هڅې وکړي، څو په افغانستان کې د یوې تل پاتې سولې راتلو سبب شي. دا ځکه چې په افغانستان کې د سولې راتګ نه یوازې سیمې ته ثبات راوړي، بلکې تر یوه بریده به د نړۍ امنیت هم خوندي کړي او په ټولیزه توګه به د سیمې او په تېره بیا د همسایه هېوادونو لپاره نوې اقتصادي ګټې هم راوزیږوي.

**پای**

# د نړيوالې سوداگرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړيتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدين کامل

وروستۍ برخه:

**تعويضي تدابير**

غړي هېوادونه کولای شي چې د منع شوو او تعقيبي سبسايډي پر ضد تعويضي ماليه وضع کړي. د سبسايډي او تعويضي تدابيرو هوکړه ليک پنځم فصل د تعويضي تدابيرو د اخيستو لپاره شرايط وضع کړي دي. دغه فصل هر غړي هېواد ته د افغانستان په گډون، د تعويضي ماليو د وضع کولو اجازه په هغه صورت کې ورکوي چې لاندې درې شرايط پوره کړي:

واردادتو ته سبسايډي ورکول شوي وي؛

وارداتو؛ داخلي صنعت ته زيان رسولی وي؛ او

وارداتو چې سبسايډي ورکول شوي وي او د زيان تر منځ ربط وي (يانې داخلي صنعت ته زيان د وارداتو له کبله رسېدلی وي).

تعويضي تدابير هم لکه د ډمپينگ ضد ماليه ده، خو دا بيا د ډمپينگ خلاف په عمل کې ډېره نه استفاده کېږي او د دې ډېر لاملونه دي. يو لامل يې همدا دی چې ډمپينگ د شخصي شرکتونو کار دی او سبسايډي ورکول د حکومتونو. په دې حالت کې کله چې د سبسايډي خلاف تحقيقات کېږي او معلومات تحليل کېږي، نو هېوادونه مجبور دي چې د بل هېواد په چارو کې لاسوهنه وکړي او هېوادونه د مصلحتونو له مخې دا کار نه کوي. دويم دا چې د سبسايډي ضد ماليې په اړه څېړنې نسبتاً د ډمپينگ ضد څېړنو ته ډېرې پېچلې دي. د بېلگې په ډول، د سبسايډي معلومول او بيا دا هم معلومول چې يادې سبسايډي دې داخلي صنعت ته زيان رسولی وي، دا هر څه ډېرو تحقيقاتو او د مقابل هېواد همکاريو ته اړتيا لري.

**افغانستان او سالمه سوداگري/رقابت**

افغانستان تر دې دمه د ډمپينگ، سبسايډي او تعويضي تدابيرو په اړه کوم قانون نه دی تصويب کړی. البته افغانستان په نظر کې لري چې د ډمپينگ او تعويضي تدابيرو په اړه قوانين تصويب کړي. د بهرنيو اموالو د سوداگرۍ قانون د مسودې ۱۷مې مادې د ډمپينگ ضد او تعويضي تدابيرو په اړه صراحت کړی دی چې له مخې به يې د يادو تدابيرو په اړه ځانگړي قوانين تصويبېږي، چې د سازمان له هوکړه ليکونو سره به مطابقت ولري.

**پايله**

سازمان ته تر الحاق وروسته افغانستان په لسگونو قوانينو، مقرراتو او لايحو کې تغيرات راوستل. موږ په دې مقاله کې ځانگړي ځينې برخې چې زموږ په نظر مهمې وې، تحليل کړې. دوه مهمې برخې (معنوي ملکيت او د پانگونې رژيم) چې اوسنۍ مقاله يې اوږدوله بلې ځانگړې مقالې ته مو پرېښودلې. په دغو دوو اړينو برخو کې افغانستان ډېر قوانين تصويب کړي دي او افغانستان په ځانگړي ډول د معنوي ملکيت د هوکړه ليک په برخه کې د سازمان پر اصولو نورې زياتې غوښتنې منلې دي.

سازمان ته الحاق يوه اوږده، ستونزمنه، وخت نيوونکې او پېچلې پروسه ده. افغانستان دغه پروسه په ۱۲ کلونو کې طی کړه او په دې برخه کې يې د سازمان پر اصولو ډېرې نورې غوښتنې پر ځان ومنلې او هم له ډېرو حقونو څخه تېر شو. افغانستان د سازمان له حقونو څخه د برخمن کېدو او د وجايبو د پلي کولو په برخو کې په لسگونو قوانينو کې بدلونونه راوستل. په ځينو برخو کې يې انتقالي موده واخيستله چې تر ډېره دغه موده د ۲۰۱۹ ز کال د جنورۍ تر مياشتې پورې وه.

د معنوي ملکيت قانون په برخه کې افغانستان اضافي وجايب واخيستل چې يو يې هم له انتقالي مودې څخه تېرېدل و. لږ پرمختللي هېوادونه تر ۲۰۳۳ ز کال پورې انتقالي موده لري، يانې دوی ته دا حق ورکړل شوی چې د معنوي ملکيت اړوند د سازمان د هوکړه ليک ځينې مادې نقض کړي. البته افغانستان بيا دغه حق نه لري؛ ځکه افغانستان د مذاکراتو پر مهال ژمنه وکړه چې د جنورۍ تر لومړۍ نېټې پورې به د TRIPS هوکړه ليک د معنوي مالکيت په اړه په بشپړه توگه تطبيق کړي. همدا راز د کرنې هوکړه ليک، سبسايډي او تعويضي تدابيرو او نورو هوکړه ليکونو کې له ډېرو حقونو څخه تېر شو چې په ابتدا کې اصلي غړو ته ورکړل شوي وو.

افغانستان که څه هم د سازمان د ستونزو حل و فصل سيستم ته خوښ برېښي؛ خو په عمل کې له دې سيستم څخه د افغانستان په څېر د يو اقتصادي او تخنيکي پلوه کمزوري هېواد په توگه استفاده ستونزمنه ده. دغه سيستم يوازې د پرمختلليو او مخ پر ودې هېوادونو لپاره اغېزمن ثابت شوی دی، خو لږو پرمختلليو هېوادونو ترې د ډېرو لاملونو له کبله تر اوسه په سمه توگه گټه نه ده اخيستې.

پای

# کاواکه پايلې؛

## د ولسمشريزو ټاکنو په اړه په دوو ورځو کې اووه زره شکايتونه ثبت شوي دي




وروسته له دې چې د ټاکنو لومړنۍ پايلې اعلان شوې، په سبا يې ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون خپل کار پيل کړ او ويې ويل چې تر دريو ورځو پورې به د لومړنيو پايلو او د ولسمشريزو ټاکنو د تېرو پروسو په اړه ټاکنيز شکايتونه ثبتوي. پرون د ورځې تر پايه د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون اووه زره شکايتونه ثبت کړي دي. له دې ډلې ډېرې يې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ټاکنيزې ډلې دي. د دولت ساز ټاکنيزې ډلې هم سلگونه شکايتونه ثبت کړي.

له دې سره هممهاله ځينو نوماندانو بيا ځلې غونډه کړې او د يوه گډ حکومت وړانديز يې کړی دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون له اوږده ځنډ وروسته د ولسمشريزو ټاکنو لومړنۍ پايلې اعلان کړې. د پايلو له اعلان سره سم ځينو ټاکنيزو ډلو غبرگون ښود او دغه کمېسيون يې له ځانگړې ټاکنيزې ډلې په ملاتړ تورن کړ. کمېسيون ځان بې طرفه بولي او تر څنگ يې دا هم وايي چې نوماندان دې د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون کې خپل شکايتونه ثبت کړي. د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ورمه ورځ خپل کار پيل کړی دی او د نن ورځې تر پايه به د شکايتونو ثبت ته ادامه ورکوي.

د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون غړو رسنيو ته ويلي چې د تېرې ورځې تر پايه يې ۷ زره شکايتونه ثبت کړي دي. دغه شکايتونه تر ډېره په مرکز کې دي، خو په ولايتونو کې هم ډېر شکايتونه ثبت کوي. د شکاياتو کمېسيون دا هم وايي چې د هر ولايت او مرکز په اړه شکايات به په همغه ولايت کې څېړل کېږي. د شکايتونو کمېسيون يو کمېشنر رسنيو ته ويلي چې د دې شکايتونو له ډلې ډېرې د لومړنيو پايلو په اړه نه دي، بلکې د ټاکنو د لومړنيو پړاوونو په تړاو دي.

له کمېسيون سره د ثبت شويو شکايتونو لويه برخه د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنيزې ډلې، بيا د محمد اشرف غني او بيا هم د رحمت الله نبيل په مشرۍ د امنيت او عدالت ډلې دي. د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون چارواکي وايي، د شکايتونو شمېر ډېر دی، خو په خبره يې، هڅه کوي چې په ټاکلې موده کې يې څېړنه بشپړه کړي. د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د چهارشنبې ورځې ترپايه د شکايتونو ثبت ته دوام ورکوي او بيا د قانون له مخې پنځلس ورځې وخت لري، چې دا شکايتونه وڅېړي او پايله يې ټاکنو کمېسيون ته وسپاري.

د دولت ساز ټيم غړي او ناظرين وايي چې دوی نن کمېسيون ته ۱۲ سوه شکايتونه وړاندې کړي دي او نن به هم دغه کمېسيون ته لسگونه شکايتونه له اسنادو سره وړاندې کړي. د دې ډلې يوه غړي اجمل هوډمن ويلي، دوی تر ډېره د هغو رايو په اړه شکايتونه ثبت کړي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون باطلې کړې دي او دوی غواړي چې دغه رايې بېرته باوري وگڼل شي.

د ثبات او همپالنې ټيم بيا تر دې وړاندې هم ويلي وو چې د ۳۰۰ زرو رايو په اړه شکايتونه لري او د دوی په خبره، يادو رايو خپل قانوني مراحل نه دي طی کړي، خو کمېسيون يې په باوري رايو کې شمېري. دغه ټاکنيزه ډله دا ادعا هم کوي چې که يادې رايې باطلې اعلان شي، دوی د ټاکنو گټونکي دي.

بلخوا بيا ځينو نوماندانو پرون په يوه خبري غونډه کې د ملي مشارکت حکومت د طرحې عملي کول غوښتل. دوی په يوه خبري غونده کې د خبرو پر مهال وويل، چې په تېرو ټاکنو کې پراخه درغلي شوې ده، شفافيت نشته او اعلان شوې پايلې هېواد د بحران لوري ته بيايي. د دوی په خبره، د هېواد اوسني وضعيت ته په کتو بايد د ملي مشارکت د حکومت په اړه د دوی طرحه عملي شي او ټول اړخونه دې په حکومت کې ونډه واخلي. د نوماندانو شورا عدلي او قضايي ارگانونو ته د هغو کسانو پر معرفي کېدو هم ټينگار کړی دی، چې په درغليو کې لاس لري.

# راپورونه: د ولسمشر ټرمپ استيضاح د امريکا په کانگرېس کې نانډرۍ راپورته کړې دي



د امريکا په کانگرېس کې جمهوري پالو او ډيموکراټو مشرانو د ولسمشر ټرمپ د استيضاح قضيې پر اصولو لانجه کړې ده.

د کانگرېس ډيموکراټان د دې خبرې تضمين غواړي چې ولسمشر ټرمپ د عادلانه محاکمې لپاره بايد شاهدانو او د اسنادو ښودلو ته اجازه ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې پر ټرمپ تور دی چې د پوځي مرستو په بدل کې يې پر اوکراين فشار راوړی چې د ده د سياسي سيال جو بايډن پر ضد د فساد قضيه پرانيزي.

د ډيموکراټانو يوه مهم مشر چک شومر ويلي، اوکراين ته د مرستو په اړه يو مهم افشا شوي برېښناليک ښودوه چې په دې قضيه کې بايد رڼوالي وي.

په ورته وخت کې د جمهوري پالو مشر مېچ مېکانل ويلي، په دې محاکمه کې د شاهدانو د حاضرېدو شونتيا شته، خو ښکاره يې نه دي ويلي چې له خلکو به شاهدي اخيستل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د استازو جرگې تېره اونۍ ولسمشر ټرمپ له واکه د ناوړه گټې اخيستلو او د کانگرېس د کار د مخنيوي په تور استيضاح کړ. د جمهوري پالو مشر مېچ مېکانل ويلي، ښايي په محاکمه کې شاهدانو ته د حاضرېدو اجازه ورکړل شي.

د يادونې ده چې ټرمپ د امريکا په تاريخ کې دريېيم هغه ولسمشر دی چې د استازو جرگې له خوا استيضاح کېږي او اوس به په سنا کې محاکمه کېږي، خو د ولسمشر ټرمپ جمهوري پال گوند په سنا کې اکثريت لري او تمه نه کېږي چې دی به له واکه لرې شي.

ټاکل شوې چې په کانگرېس کې به د ولسمشر ټرمپ محاکمه د کرسمېس له رخصتيو وروسته د راتلونکي کال په جنورۍ مياشت کې پيل شي.

ډيموکراټان غواړي چې په دې قضيه کې د دوی څلورو شاهدانو ته د شاهدۍ ورکولو اجازې ضمانت ورکړل شي. دا څلور شاهدان د سپينې ماڼۍ اوسني او پخواني سلاکاران دي چې د دې قضيې او د اوکراين له ولسمشر سره د ولسمشر ټرمپ د ټليفوني مکالمې په اړه مالومات لري.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ پر ځان لگېدلي تورونه بيا بيا رد کړي او ادعا کوي چې ډيموکراټانو د ده پر ضد دسيسه جوړه کړې ده.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریيمه برخه

افغانستان

### لسم څپرکی
### په لوی کندهار کې نوي طالبان




کله چې د طالبانو جګړه پیل شوه، کرزي د بوش پر اداري فشارونه زیات کړل چې پاکستان د سولې په خبرو کې شامل کړي. په ۲۰۰۷ز کال، په کابل کې د افغانستان او پاکستان د څه باندې ۷۰۰ مشـرانو لویه غونډه جوړه شوه. دواړو اړخونو په دې درې ورځنۍ غونډه کې یو پرېکړه لیک خپور کړ چې له مخې یې ترهګرۍ د دواړو هېوادونو پر وړاندې ګواښ بلل شوې وه او دواړو ته مسئولیت ور تر غاړې شوی و چې له ترهګرۍ سره مبارزه هر هېواد د خپل ملي امنیت په اجنډا کې په جدیت سره ونیسي. په دې سند کې ژمنه شوې وه چې د دواړو هېوادونو حکومتونه او خلک به په خپلو خاورو کې ترهګرو ته پټنځایونه نه ورکوي.

د دې جرګې په ترڅ کې سوله رانغله. د پښتنو مشـرانو له لوري د پاکستان پر تګلارو له سختو نیوکو وروسته د پاکستان ولسمشـر پروېز مشـرف او حکومت لا هم جدي دریځ خپل کړ. کړکېچ هغه مهال لا هم ډېر شو چې د ۲۰۰۷ز کال په ډسمبر کې د پاکستان پخوانۍ لومړۍ وزیره بېنظیر بوټو ووژل شوه.

په ۲۰۰۸ز کال حامد کرزي یو ځل بیا د سولې هڅې تازه کړې. هغه د سعودي شاه عبدالله بن عبدالعزیز ته لیک ولېږه، له هغه یې غوښتي وو چې د خپل نفوذ په استفادې سره طالبان د سولې خبرو ته وهڅوي. سعودي او طالبانو د مکې مکرمې په ښار کې مجلسونه وکړل، خو پایله یې مثبته نه وه. په کندهار کې کرزي خپل ورور احمد ولي کرزي ته دنده سپارلې وه چې له کندهاره په کوېټه کې له مېشت ملابرادر سره د خبرو زمینه برابره کړي. ملابرادر هم په قوم پوپلزی و، ځکه نو د کرزي کورنۍ په اسانۍ ورسره اړیکه نیوی شوای. بیا هم خبرې یوازې تر پېژندنې پورې محدودې پاتې شوې.

کله چې بارک اوباما د ۲۰۰۹ز کال په پیل کې د امریکا د ولسمشـر په توګه وټاکل شو، یو ځل بیا د افغانستان د سولې لپاره هیلې را وټوکېدې. پر جګړې له لویې کتنې وروسته، اوباما خپله نوې ستراتیژي اعلان کړه چې د افغانستان د سولې خبرې یې اړینه موخه ګڼلې وه. اوباما وویل: ((په هغه هېواد کې چې له لسیزو په جګړه کې ښکېل، خلک یې له بې وزلۍ سره مخ دي، له سولې پرته روان کړکېچ پای ته نشي رسېدی. افغانان د سولې د ټاکنې لاره هم په لاس کې لري، موږ به له افغان قومي مخورو، حکومت او نړیوالو ملګرو سره د خبرو اترو لړۍ هر ولایت ته ورسوو.))

خو طالبان دا مهال د سولې د خبرو لپاره هېڅ چمتو نه وو. ملا محمدعمر د ۲۰۰۹ز کال د لوی اختر په پیغام کې څرګنده کړه: ((یرغلګر امریکایان غواړي د سولې د مذاکراتو په پلمه مجاهدین تسلیم کړي. په دې کې هېڅ پوښتنه نه پیدا کېږي.))

د ۲۰۱۰ز کال په جنوري کې د افغانستان په اړه لندن کې یو نړیوال کنفرانس جوړ شو. نړیوالې ټولنې د خپلو مرستو په لړ کې د افغانستان د سولې او بیا ادغام لپاره ۱۴۰ میلیونه ډالرو مرسته اعلان کړه. د دې نوښت له مخې جګړه کوونکو طالبانو ته د دندو او امنیت د فرصتونو په برخه کې همکاري کېده، خو دا نوښت ډېر ژر، هغه مهال له ګواښ سره مخ شو چې پاکستاني استخباراتو د ۲۰۱۰ز کال په فبروري کې ملابرادر په کراچۍ ښار کې ونیو. پاکستاني څارګرو ته جوته شوې وه چې ملابرادر له حامد کرزي او سعودیانو سره اړیکې لرلې. د پاکستان پوځ تل د واشنګټن او طالبانو د مخامخ خبرو مخالفت کاوه، هغوی غوښتل چې هرڅه باید د اسلاماباد په لاس کې وي. د ملابرادر تر نیول کېدو وروسته پاکستان کې ډېر نور طالبان هم تر څارنې لاندې شول.

د ۲۰۱۰ز کال په جون کې حامد کرزي د ۱٦۰۰ افغان مخورو په ګډون کابل کې د سولې جرګه جوړه کړه. دا جرګه د دې لپاره وربلل شوې وه چې وښیي د سولې له خبرو سره خلک هم ملاتړ کوي. طالبانو بیا هم د دې هڅې مخالفت وکړ، ځانمرګي بریدګر یې لېږلي وو، پر جرګه یې برید وکړ. د همدې کال په سپټمبر کې حامد کرزي د سولې اویا کسیزه عالي شورا جوړه کړه چې له طالبانو سره د سولې خبرې مخکې یوسي. د دې شورا مشـري یې تاجک مشـر او پخواني ولسمشـر برهان الدین رباني ته ورکړه.

په پای کې، جرمنیانو د طالبانو او امریکایانو تر منځ د نېغو خبرو زمینه برابره کړه. دا اړیکې ټولې پر مذاکراتو ور ټولې وې، خو هغوی د دواړو لوریو د ذهنیت جوړولو او په منځ کې د واټن لیرې کولو لپاره هڅې وکړې. وروسته واشنګټن د سولې پر لور د یوه ګام په توګه د ملګرو ملتونو له تور لیست څخه د ځینو طالب مشـرانو نومونه لیرې کړل. طالبانو یې په ځواب کې پر خپل دریځ کې نرموالی راووست. هغوی پر خپلو بېلابېلو اعلامیو کې داسې خبرې لیکلې وې چې له مخې یې د سولې د مذاکراتو لور ته د هغوی تمایل ښکاره کاوه. هغوی په دې اند وو چې د سولې لپاره لا لویه لار په مخکې وه.

د ۲۰۱۰ز کال په اکتوبر کې د طالبانو د حکومت د بهرنیو چارو پخواني وزیر مولوي وکیل احمد متوکل راته وویل چې د سولې لاره ډېره پېچلې او ډېر وخت به واخلي. هغه په دې اند و چې د اوږدمهالې او اساسي سولې لپاره درې ګامونو ته اړتیا وه: ((لومړی، د سولې خبرې باید بین الافغاني وي. دوهم، سوله باید د افغانانو او امریکایانو یا په لویه کچه له ناټو سره وشي. درېیم، د سیمې له هېوادونو سره د سولې په تړاو خبرو ته اړتیا ده.)) متوکل په دې نظر و چې د سولې د خبرو لپاره طالبان باید په یوه بې پلوه هېواد کې دفتر پرانیزي. **دوام لري...**

# د بریا لار

اکسوس کتابپلورنځی

که د ننني نړۍ لپاره یو نوم ټاکو، نو د (د بریالیتوب نړۍ) به ورته تر ټولو ښه نوم وي. ټول غواړي چې باید بریالي وي، خو کله کله بریا ته لاسرسی سخت وي. د خلکو یوه ستونزه دا ده چې ځان ورته جامع الکمالات ښکاري او په هوښیارۍ کې یې پر ځان تمامه کړې وي. لړ باید د نورو خبرو ته هم غوږ کېښودل شي او مطالعه وشي. بې ځایه وخت تېرول ډېر خطرناک کار دی. د ودې د کلونو په اوږدو کې باید پر زده کړو تمرکز وکړو. داسې زده کړه چې فکر کولو ته مو لېواله کړي.

کله مو چې فکر کول زده کړل، نو هېڅکله باید دغه وړتیا له لاسه ور نه کړو. ګټوره زده کړه نه یوازې دا چې بریا ته مو رسوي، بلکې ځوان مو هم ساتي. له خپلو خپلوانو، ملګرو، دوستانو او مشتریانو څخه هم زده کړه وکړئ. دا به وړیا زده کړه وي، خو ډېره ګټوره ده. وختونه کېږي چې دا تصور موجود دی چې ټولې بریاوې په اصل کې له ذهنه پیلېږي. په کلي ډول دغه موضوع اوس منل شوې هم ده، چې بریا او ماتې دواړه لومړی زموږ په ذهن کې جوړښت مومي. ان تر هغه مخکې چې پر واقعیت بدلې شي. افلاطون ویلي: «هر شی دوه ځله خلق کېږي، یو ځل په ذهن کې او بل ځل له ذهنه د باندې». نو د بریالي حرکت لپاره لومړۍ موخه باید دا وي چې له ذهني اړخه باید ورته د یوه بریالي حرکت په سترګه وکتل شي. هغه مسیر په خپل ذهن کې ترسیم کړئ. دغه کار به درته د مثبتې پایلې ضمانت وکړي.

غوره پانګونه دا ده چې لومړی پر خپل ځان پانګونه وکړئ. له ځان سره مینه وکړئ او د ښو لایق یې وګڼئ. دویم پر خپلو ملګرو او دوستانو باندې پانګونه وکړئ. داسې ملګري چې بریا ته په رسېدو کې پرې باور وکړی او زړه پرې وتړی. په ماتې کې تر ټولو غوره ټکی دا دی چې دا ځل موږ تر لومړي ځل په خلاصو سترګو پرېکړه کوو او لوری ټاکو. له ماتې وروسته باید موږ تیار اوسو او د هغو درسونو له مخې حرکت وکړو، چې له ماتې څخه مو زده کړې دي. کیدای شي هره ورځ مو له لاسته راوړنو ډکه او بې عیبه نه وي، خو له کار سره مینه د دې لامل کېږي، چې کار درته ارزښتمن شي. له کار سره دې دا ډول مینې پیدا کول یا پیدا کېدل، کېدای شي وخت ونیسي؛ خو د بریالیو کسانو درسونه موږ ته رانښیي، چې دا کار په جګړې او زحمت ارزي.

که غواړې په ټوله مانا یو بریالی انسان وی، نو هر ځای چې ګام ږدی، مینه وکړئ، خوښي او مثبته انرژي تولید کړئ، د خپلو تېروتنو په اړه نور ځورول او د ملامتیا ګوته ورته نیول اسانه کار دی؛ خو تر ټولو اسانه کار او هغه مهارت چې باید زده یې کړی، دا دی چې د خپلو ټولو کارونو مسوولیت پر خپله غاړه واخلئ. ان کېدای شي تر دې یو ګام نور هم مخکې لاړ شي او ستونزو ته د حل لار ولټوئ. دغه کار مو په ژوند کې بریا تضمینوي.




ژباړن وایي: «د (بریا لار) چې د ناپیلیون هېل اثر دی، ځکه مې یې پښتو ژبې ته د ژباړې هڅه وکړه، چې د بریا ډېرې اسانه او عملي لارې چارې یې پکې په ګوته کړې دي. که څه هم بریا ته غځېدلې لار مستقیمه نه وي او له لوړو ژورو ډکه وي، خو که کتاب په دقت مطالعه کړی، په دې لوړو ځوړو کې تګ به درته اسانه او خپلو ټولو هغو هیلو ته به ورسېږی، چې په سر کې مو درلودې او خوب مو یې لیدلی و.

مینه وال کولای شي دغه کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | THE ALCHEMIST | PAULO COELHO | ۱۵۰؋ |
| ۲ | Tree or Three Elementary Pronunciation | ANN Baker | ۱۲۰؋ |
| ۳ | Ship or Sheep? an intermediate pronunciation Course 3th | | ۱٤۰؋ |
| ٤ | Better English Pronunciation | J.D.O'Connor | ۱۲۰؋ |
| ۵ | پردېس عربي پښتو قاموس | عبدالرحمن بن ابراهیم | ۱۵۰؋ |
| ٦ | پلټونکي خبریالي | پوهیالی احمدضیا الهام | ۷۰؋ |
| ۷ | د اړیکو اساسات | پوهندوی محمدخان نیازی | ۲۳۰؋ |
| ۸ | په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون | عبدالجلیل وجدي | ۱۵۰؋ |
| ۹ | تهیه او تدارکات د تدارکاتو قانون | سراج الدین حلیمزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۰ | د انجنیر احمدشاه احمدزي ژوند او مبارزه | څېړنوال محمد آصف احمدزی | ۳۰۰؋ |
| ۱۱ | د ځان مدیریت | محمد ابراهیم رحیل | ۷۰؋ |
| ۱۲ | تاریخ افکار سیاسی با تجدید نظر و اضافات | عنایت الله اکبری | ۱۸۰؋ |
| ۱۳ | بایبل پېژندنه | عبدالغفار جبیر | ۱۱۰؋ |
| ۱٤ | د ګوانتانامو ۳ بندیان | انجنیر نظرمحمد مطمئن | ۸۰؋ |
| ۱۵ | طالبان په جاپان کې موږ په وارسا کې | | ۱۲۰؋ |
| ۱٦ | طالب مشرانو سره شپږ ورځې د کندهار د سولې چیغه | | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | ښکلي ځوابونه | عبدالغفار جبیر | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | داستان جهاد افغانستان روایت کرنل | احمد رضوان تارر | ۱۰۰؋ |
| ۱۹ | د افغانستان د جهاد داستان | | ۱۰۰؋ |
| ۲۰ | فشرده تاریخ سیاسی جهان | پوهنیار دګروال تاج محمد صائب اسماعیل روشنګر | ۳۰۰؋ |
| ۲۱ | زما ژوند د هوا په سترېو څپو کې | ډګر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردګ پیلوت | ۱۰۰؋ |
| ۲۲ | په نیمه لار کې پاتې (ناول) | صحت سمسور | ۷۰؋ |
| ۲۳ | بسپنه (ناول) | عبدالهادي حماس | ۱۵۰؋ |
| ۲٤ | لېونی پر بام | عزیز نسین | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | اساسات نرسنګ | الحاج داکتر ریاض شرف زی | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | د خندا په څپو کې له خندا او ساتیرۍ سره انګلیسي هم زده کړئ | دلاور حقمل | ۱۰۰؋ |
| ۲۷ | ماندلامبارزبی کینه | جاوید قربان اوغلی | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | روایت های طالبان | توماس جانسون | ۳۰۰؋ |
| ۲۹ | فیدل کاسترو پس از کناره ګیری | داود جلیلی | ۱۰۰؋ |
| ۳۰ | د جذب ځواک (څنګه خلک ځان ته جذب کړو) | محب الله عمری | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانۍ

# څنګه په خپله دنده کې راضي اوسو؟

لیکنه: یاران وبیپانه

انسان د وړ کار او ډېر عاید په لټه کې حریص دی. هغه که وواېو چې ټوله نړۍ غواړي، غلو به مو نه وي کړې. پر شته وضعیت د قناعت ډېرو کمو بېلګو ته توجه کوي، هر وخت شکایت کوي او له خپله حاله ځورېږي.

ډېر کسان له ځانونو پوښتي، چې په شته دنده کې ولې دومره پاتې دي؟ ولې بل کار نه پیدا کوي؟ دا د کارموندنې او ودې او پرمختګ پر لور ښه فکر دی، خو دا فکر باید د خپلو ظرفیتونو، اړتیاوو او وړتیاوو په رڼا کې تعقیب کړل شي. بې ځایه او بې وخته او هغه د چا خبره په تش سر د ښه کار او دندې پیدا کول هم ولاکه د انصاف خبره وي. لومړی مو وړتیاوې او مهارتونه پیاوړي کړئ او وروسته ښه دنده ولټوئ.

انسان ته د نوي کار هوس په څو لاملونو ور پیدا کیږي. کله چې په خپله دنده کې تر فشار لاندې راشي، یا یې حیثیت او انساني شخصیت تر پوښتنې لاندې راشي، یا کار پرې زیات او امتیاز یې کم شي، یا هم دا چې شته مالي وضعیت یې کورني لګښتونه نه شي پوره کولای.

کله هم د فشار او د چا د توهین تر اغیز لاندې مه راځئ. دا وخت انساني احساسات له کنټروله وځي او د عقلاني حل او ستونزې د څېړلو پر ځای، احساساتي چلند کوي. تاسې تر هغه وخته له خپلې دندې راضي یاست، چې ستاسې له طبعې سره سمه پرمخ ځي، خو دغه ایډیال حالت تل نه وي، ځکه کاري فشار او په کاري چاپېریال کې د ارزونې، کاري څرنګتیا محرکات ډېر ځله پر کارګر او کارکوونکي منفي اغیز کوي او دغه غیر عادي وضعیت انسان غبرګون ته اړباسي.



د کاري محیط او کاري فشارونو پر وړاندې روحي او فزیکي مقاومت د بري مهم راز دی.

که غواړئ کاري رضایت تر لاسه کړئ، پر مالي مسایلو سربېره، د کار ټولنیز او انساني ارزښت هم وسنجوئ. تاسې خبريالي کوئ، معاش مو کم دی، خو ټولنیز ارزښت مو ډېر دی. هر څوک ستاسې قدر کوي، خو که دوکانداري کوئ او عاید مو ډېر وي، ټولنیز رول مو له لومړني هغه سره د پرتلنې وړ نه دی.

هېڅکله دا کوښښ مه کوئ، چې د یوې ادارې د قوانینو او تګلارو پر وړاندې ودرېږئ. که ورسره جوړ نه راځئ، ښه ده چې په هغه اداره کې له دندې اخیستو ډډه وکړئ. داسې ځای د ځان لپاره دنده ولټوئ، چې پوهېږئ له اصولو او قوانینو سره یې جوړ راتلی شئ.

له مدیریتي تګلارو سره ستاسې جوړ نه راتلل او د کمپنۍ او شرکت د کاري تګلارو تر پښو لاندې کول، پر تاسې د کار ساحه تنګوي او بالاخره له خپل کاره زړه توري کیږئ. ډېرو خلکو ته دا تجربه شوې ده، چې کله د ادارې د تګلارو او پالیسیو پر وړاندې نرمښت ښیي، کاري چاپېریال ورته خورا صمیمي کیږي. تر ټولو مهم څیز په یوه اداره کې د هغوی اصولو ته پر ارزښت قایلېدل دي. که اداره او شرکت بې ارزښته ګڼئ او پر وړاندې یې بې پروا وئ، نه به له خپل کاره رضایت تر لاسه کوئ او نه به هم په اداره کې د پرمختګ چانس ولرئ.

تاسې ډېرځله له مشرانو اورېدلي، چې دا زموږ د پلار او نیکه کسب او کار دی او باید ژوندی پاتې شي. دا زړې خبرې دي، په دې خبرو ډېر سر مه خوږوئ. تاسې که د پلار او نیکه په څېر نابیتوب کوئ، په عمر هم ښه ورځ نه وینئ. نابیتوب بد کار نه دی، خو که له دې وړاندې تلای شئ، حرکت مو مه ټکنئ کوئ. د کار او ژوند په اړه نوی فکر وکړئ او وګورئ، چې په کومه برخه کې مو فکر کار کوي.

زه د خپل دهقان خبره درته کوم، چې په پوهنتون کې زما ټولګیوال و، خو ترپایه دا منفي احساس پرې غالب نه شو، چې زموږ دهقان دی. ترپایه څوک پوه هم نه شول، چې دی زموږ دهقان دی. هغه د دهقانۍ ژوند پرېښود او نن په کلي کې تر ما زیاتې ځمکې لري. هغه په کابل کې خپل کور لري، خو زه لا هم په کرایي کور کې ژوند کوم.

انساني غریزو پر شته وضعیت د قناعت مخه ډب کړې ده. هغوی چې قناعت کړی، له رکود او جمود سره مخ دي. لس جریبه ځمکه یې پنځو جریبو ته رسېدلې، په پنځو کې یې نیمه دهقان وړې، خو د دهقان ځمکه یې تر ده دوه چنده ډېره شوې ده. علت دا دی چې هغوی لا په پخوانیو فکرونو کې دي، لا هم خانان دي او دې خانۍ نن ګدایۍ ته اړ کړي دي.

د دندې، تحصیلي څانګې او کار په انتخاب کې د انسان لومړیتوب ځاني رضایت دی. کاري خوندیتوب او وظیفوي پرمختګ هم دوه نور هغه عوامل دي، چې ډېرځله د کار په انتخاب کې لومړیتوب ورکول کیږي.

پخوا دې مسئلې ته خلکو دومره پام نه کاوه، خو اوس د کار او دندې په انتخاب کې خلک د کار او دندې راښکون، ګټې، وظیفوي خوندیتوب، پرمختګ، مهارت، زده کړې، کاري استقلال او دا ډول نورو مسایلو ته ډېر ارزښت ورکوي. د نارینه وو په پرتله ښځې ډېرې هغه دندې خوښوي، چې راښکونکې، کورته نږدې او خوندي وي او دغه راز نوي مهارتونه په کې زده کړي.

کورنی وضعیت او عمر د کار او دندې په انتخاب کې مهم رول لوبوي. هغه زلمیان چې پلرونه یې کار کوي او عاید یې ښه دی، په دې څیزونو ډېر سر نه خوږوي، خو چې عمر یې لوړېږي، فکر یې پر زیاتو عوایدو او ډېر کار تمرکز کوي.

## سرچینې: طالب مشران د لنډمهاله اوربند پر سر لومړنیو هوکړو ته رسېدلي دي

طالبانو ته یوې نږدې سرچینې تایید کړې چې د دغې ډلې مشران د لنډمهاله اوربند لپاره لومړنیو هوکړو ته رسېدلي دي.

یادې سرچینې ټینګار کړی چې ښایي د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې له هوکړې سره سم طالبان لس ورځنی اوربند اعلان کړي او وروسته له هغې به د افغانانو تر منځ خبرې پیل شي.

په همدې حال کې په قطر کې د سولې خبرو اترو ته یوې نږدې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې د طالبانو یوه ډله له خپلو پوځي قوماندانانو سره د مشورو په موخه هلمند ته تللې، خو وروستۍ هوکړه نه ده شوې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا متحده ایالتونو د تاوتریخوالي کموالی او د اوربند هوکړې په تړاو طالبانو ته وړاندیز کړی او طالبانو هم په دې اړه له خپلو مشرانو او پوځیانو سره خبرې پیل کړې دي.



بلخوا پخواني طالب چارواکي عبدالشکور مطمئن ویلي: «خبرې حساسې مرحلې ته رسېدلې، طالبان هوکړې ته رسېدلي چې د هوکړې سره سم به اوربند کېږي او بیا به انشاالله افغانانو تر منځ خبرې پیلېږي».

خو په قطر کې د سولې خبرو ته نږدې سرچینې هلته د طالبانو د یوه لوړپوړي مقام له خولې ویلي، چې اوسمهال طالب مشران له پوځیانو سره پر خبرو بوخت دي، خو د اوربند لپاره وروستۍ هوکړې ته نه دي رسېدلي.

په همدې حال کې په کابل کې هم د هېواد سیاستوال د سولې لپاره د افغانانو تر منځ د خبرو په موخه د پلاوي پر جوړولو بوخت دي.

د سولې عالي شورا مرستیال حاجي دین محمد ویلي: «د ټاکنو له را رسېدو سره د سولې لپاره هڅې لږې کمې شوې وې، خو هغه وخت د سیاستوالو لخوا طرحه جوړه شوې وه او اوس د نوملړ جوړولو لپاره د عبدالله عبدالله په ګډون، ډاډه یو چې یوې هوکړې ته رسېږو. هر وخت چې وغوښتل شي، موږ به نوملړ وسپارو».

د یادونې ده چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې له وروستیو خبرو نږدې دوې اونۍ تېرېږي او ویل کېږي چې امریکا د تاوتریخوالي کمښت او اوربند په تړاو د طالبانو پرېکړې ته په تمه ده.

## د چاپېریال ساتنې اداره: هغه ښارګوټي چې هوا ککړوي، په یوه اونۍ کې به ۲۵۰ زره افغانۍ جریمه شي

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې ویلي، هغه ښارګوټي چې هوا ککړوي، په یوه اونۍ کې به ۲۵۰ زره افغانۍ جریمه شي.

د دې ادارې چارواکو ویلي، د ښارګوټو او ټولو سوداګریزو مرکزونو مالکان د مرغومې تر شپږمې نېټې وخت لري چې د سون توکو لپاره له تصفیه کوونکې الې کار واخلي.

دا په داسې حال کې ده چې په پلازمېنه کابل کې د هوا ککړتیا حکومت اړ کړ چې د ستونزې د هوارې لپاره لاس پکار شي.

تازه د چاپېریال ساتنې ملي ادارې او کورنیو چارو وزارت سوداګریزو مرکزونو ته د مرغومې میاشتې تر اتمې وخت ورکړی چې د سون د غیرمعیاري توکو له کارونې څخه ډډه وکړي.



د چاپېریال ساتنې ملي ادارې د اطلاعاتو مسوولې لیلا ساماني ازادي راډیو ته ویلي چې که دغه مرکزونه د سون توکو د کارونې پر مهال له تصفیه کوونکې الې څخه ګټه وانه خلي، لوړه نقدي جریمه به پرې کړي.

هغه ویلي: «ټول ښارګوټي او سوداګریز مرکزونه به پلټل کېږي، ځکه دوی معمولاً له ډېرو سکرو ګټه اخلي. که دوی له تصفیه کوونکې الې ګټه وا نه خلي، جریمه به شي. کېدای شي هره اونۍ نقداً ۲۵۰ زره افغانۍ جریمه شي».

د نومورې په خبره، د ښارګوټو جریمه د مرکز ګرمیو د شمېر او حمامونو د خونو د شمېر له مخې تر سره کېږي او د نورو مرکزونو د جریمو په اړه کار روان دی.

حکومت د ښارګوټو، د خښتو بټیو، حمامونو، د ودونو د صالونونو، تولیدي کارخونو، د سونا حوضونو او نورو سوداګریزو مرکزونو مالکانو ته خبرداری ورکړی، که د سون غیرمعیاري توکي وکاروي، قانوني چلند به ورسره شي.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني روانه اونۍ د کابل هوا وژونکې بللې او امر یې کړی و چې د هوا ککړوونکي مکلف دي چې د سون له معیاري توکو استفاده وکړي او د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره له تصفیه کوونکو الو کار واخلي.

د یادونې ده چې د تصفیه کوونکې هرې الې قیمت له ۷۰ زرو افغانیو زیات ښودل شوی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۵ |
| € | ۸۶,۶۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ځلورمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۵مه | ٤٨٦یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱٦ | ۱۵ | ۱۵ | ۱۹ | ۱٦ |
| -۳ | ۱ | -۱ | ۲ | ۳ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۸ | لمر ختل ۰٦:۵۷ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۲:۳۱ | ماښام ۰٤:٤۹ | ماخوستن ۰٦:۱۹


## نړۍ



## راپوروونه: د ولسمشر ټرمپ استیضاح د امریکا په کانګرس کې ناندرې راپورته کړې دي

۳

## خامنه‌يي: د اعتراضونو د پای ته رسولو لپاره دې هر اړین ګام واخیستل شي



رویټرز خبري آژانس د ایران د لوړ پوړو چارواکو له قوله ویلي چې د ایران ستر مذهبي مشر آیت الله علي خامنه‌يي د دغه هېواد له امنیتي چارواکو غوښتي چې د وروستیو اعتراضونو د ختمېدو لپاره دې هر هغه کار وکړي چې لازم وي.

دغو چارواکو چې نومونه یې نه دي اخیستل شوي، رویټرز ته ویلي چې آیت الله علي خامنه‌يي لوړپوړي امنیتي او دولتي چارواکي ورغوښتي او سپارښتنه یې کړې چې د دغو اعتراضونو د ختمېدو لپاره هر هغه کار چې لازم وي، ویې کړي.

یوې سرچینې رویټرز ته د خامنه‌يي له قوله ویلي چې نوموړي په همدې غونډه کې ویلي: «اسلامي جمهوریت په خطر کې دی، د ناارامیو د ختمولو لپاره هر هغه کار وکړئ چې لازم دی، دا زما فرمان دی».

د راپور له مخې، له دغې سپارښتنې سره د اعتراض کوونکو خونړي ځپل پیل شول چې په ایران کې د ۱۹۷۹ ز کال اسلامي انقلاب راهیسې یې ساری نه درلود.

رویټرز د ایران د کورنیو چارو وزارت د دریو چارواکو په حواله راپور ورکړی چې د نومبر د اعتراضونو په نږدې دوو اونیو کې ۱۵۰۰ کسان ووژل شول.

ایراني چارواکو تر اوسه د وژل شویو کسانو کره شمېره نه ده ورکړې، خو د بښنې نړیوال سازمان اټکل کوي چې په دې اعتراضونو کې لږ تر لږه ۳۰۴ کسان وژل شوي دي.

## په اندونیزیا کې د ترافیکي پېښې له امله ۳۹ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د راپورونو له مخې، د اندونیزیا په پالیمبانګ سیمه کې کندې ته د یو مسافر وړونکي بس د غورځېدو له امله ۲٦ مسافر مړه شوي او ۱۳ نور ټپیان دي.

دغه بس چې په لسګونو کسان پکې سپاره وو، د دغه هېواد د سوماترای په سویل کې د ۱۵۰ مترو په اندازه له جګې درې ښخه لاندې اوبو ته لوېدلی چې له امله یې یاده مرګ ژوبله رامنځ ته شوې ده. د چارواکو په خبره، مرستندویه ډلې سیمې ته رسېدلې او ټپیان یې روغتونونو ته لېږدولي دي.

اندونیزیایي پولیسو رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې په دغه بس کې پنځوس کسان سپاره وو.

دا په داسې حال کې ده چې په اندونیزیا کې دا ډول پېښې تر دې وړاندې هم شوې چې چارواکي یې لامل د موټر چلوونکو بې احتیاطي، د ترافیکي قوانینو نه مراعاتول او دغه راز ناسم موسمي شرایط یاد کړي دي.

د یادونې ده چې په تېره سپټمبر میاشت کې هم په یاد هېواد کې د یوې ترافیکي پېښې له امله شاوخوا ۳۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.

په ورته وخت کې د دغه هېواد چارواکو خبرداری ورکړی چې اندونیزیا ته دې له دې وروسته د زړو موټرو پر وارداتو بندیز ولګول شي.

دوی دغه راز ویلي چې دغه ډول موټرو د زرګونو کسانو ژوند له ګواښ سره مخ کړی دی.

## سناتوران: آتش بس موقت و تنها با امریکایی ها مشکل کشور را حل نمی کند



برخی اعضای مشرانو جرگه، خواستار آتش بس دایمی و سراسری در کشور می باشند و می گویند که آتش بس موقتی و آن هم تنها با امریکایی ها، مشکل افغانستان را حل نمی کند.

به اساس یک گزارش، منابع نزدیک به طالبان به تلویزیون «یک» گفته اند که در میان رهبران این گروه، در بارۀ کاهش خشونت ها و آتش بس کوتاه مدت در افغانستان توافق هایی به دست آمده است.

منابع افزوده اند که این توافق، ظاهراً پس از سفر هیئت طالبان به رهبری مولوی شهاب الدین دلاور به پاکستان و رایزنی این هیئت با رهبران طالبان در پشاور و کویته، به دست آمده است.

در عین حال اعضای مشرانو جرگه در نشست دیروز در این مورد صحبت هایی داشتند.

محی الدین منصف نماینده مردم کاپیسا در مشرانو جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفت: «اگر آتش بس برای یک ساعت هم باشد خوب است؛ اما آتش بس موقتی و تنها با امریکا به نفع افغان ها نیست».

او تأمین آتش بس را میان طرف های درگیر یکی از شرایط مذاکره و گفتگو برای تأمین صلح دانسته افزود که صلح بدون آتش بس، هیچ مفهومی ندارد.

اما به گفته او درصورتی که طالبان حاضر به آتش بس سرتاسری و دایمی نشوند، آتش بس موقتی نیرنگ است و افغان ها هیچ گاه، با آتش بس موقتی و تنها با امریکا را قبول ندارند.

شمار دیگر از اعضای این جرگه نیز خواهان آتش بس سرتاسری و دایمی در کشور شدند.

فضل هادی مسلمیار رئیس مشرانو جرگه گفت: «مذاکراتی که در آن کشتن مردم جریان داشته و به خاطر خوشحالی امریکا آتش بس شود، برای افغان ها قابل قبول نخواهد بود، باید مذاکرات و آتش بس میان دولت افغانستان و طالبان صورت گیرد».

## ژوند

## کارکوونکو ته مو د نظر ورکولو حق ورکړئ



غوره مشران د خپل ټیم غړو ته ازادي ورکوي. دوی د خپل ټیم غړو ته په کار او نظر کې ازادي ورکوي، څو دوی له خپله ځانه غوره کړنې او عکس العملونه وښیي، بېلابېلې لارې تجربه کړي او پرمختګ وکړي. تېروتنه، بریا ته د رسېدو یوه برخه ده. خلک غواړي چې د داسې یو شرکت غړي او کارکوونکي و اوسي، څو اجازه ورکړل شي چې خپلې وړتیاوې او استعدادونه را څرګند کړي او خپل ځان د شرکت د یو مهم غړي په توګه ویني. کار کوونکي غواړي د شرکت په اونیزه ناسته کې د ګډون وياړ تر لاسه کړي او د خپل ښه کار پایله ویني او په اړه یې واوري. اغېزمني اړیکې هغه وخت پیل کیږي چې کله غوره اورېدونکي اوسو. خپل همکاران وهڅوئ څو خپل نظریات او هر هغه څه درسره شریک کړي، چې په زړه کې یې لري، بې له دې چې تاسو ورته مزاحمت وکړی یا خپل نظریات پرې تحمیل کړی. داسې یو چاپېریال جوړ کړئ چېرې چې هرڅوک دا احساس وکړي چې د دوی اواز اورېدل کیږي. له خپلو همکارانو سره د باندې چکر ووهئ، څو د یو بل له ژونده خبر شی. کله چې پر دې پوه شوی چې دوی څه ته ضرورت لري او څه ډول شخصیت لري، نو کولای شی چې لا ټینګې اړیکې رامنځ ته کړی.

## دغه خواړه مو پوستکی تازه ساتي


ډېری داسې محصولات یا خواړه شته چې پر بدن مو ښه اغېز نه کوي، ځان ترې وژغورئ، لکه ناسالم غوړ، بوره، مالګه، الکول او آن کافیین. دغه شیان کولای شي په بدن کې بېلابېل پروټین له منځه یوسي او پوستکی مو ور سره وچ او بې خونده شي. د پوستکي لپاره ګټور خواړه کوم دي؟ دلته یې یادونه کوو:

انار؛ هغه مېوه چې په پراخه کچه ویټامینونه او د اکسایډ ضد ماده لري.

زیتون تېل: د زیتون تېل اومیګا ۳ اسیدونه لري او دغه اسیدونه د پوستکي لپاره خورا ګټور دي.

توت: توت د اکسایډ ضد مادو لرونکې مېوه ده چې د پوستکي حجرو په ساتلو کې مرسته کوي او د وینې د لوړ فشار مخه نیسي.

شین چای: بدن د اکسایډ له اغېز ژغوري.



سبزي: پاڼې لرونکي سبزي لکه پالک او نور د التهاب ضد ځانګړتیاوې لري او د A، C او K ویټامینونو غني سرچینه ده.

کبان: کبان اومیګا ۳ اسیدونه او همدا راز ګټور غوړ لري.

اوبه: اوبه د زړښت د مخنیوي په برخه کې غوره ماده ده. د ورځې په بېلابېلو وختونو کې په مسلسل ډول اوبه څښل ضروري دي. دا د میټابولیک پروسو ملاتړ کوي او د پوستکي د وچوالي مخه نیسي.